Preview (1 / 10) - ketabton.com

يو گام رامخته شه!

حضرت عثمان نوري

Preview (2 / 10) - ketabton.com



د کتاب ځانګړنې

کتاب نوم:	**یو ګام رامخته شه!**
لیکوال:	حضرت عثمان نوري
ډیزاین چاپ:	طیب الله نظیرزاده
چاپ کال:	۱۴۰۴ ل ل
چاپ شمېر:	۱۰۰۰ ټوکه
خپرندوی:	**سهار خپرندویه ټولنه.** جلال اباد
	احساس خپرندویه ټولنه ـ جلال اباد

د دې کتاب د هر ډول چاپ او خپرولو حقوق د خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.

د ترلاسه کولو پته:

سهار خپرندویه ټولنه. اسحاقزی مارکیټ، لاندې پوړ، جلال اباد.

اړیکه: ۰۷۷۳۱۵۳۶۳۲/۰۷۷۹۲۷۳۳۴۵/۰۷۸۹۹۰۴۵۷۷

احساس خپرندویه ټولنه ـ اسحاقزی مارکیټ، لاندینی پوړ، جلال اباد ښار

کابل: اکسوس کتابپلورنځی، مازیګر کتابپلورنځی، علمي کتابپلورنځی، مستقبل کتابپلورنځی، سروش کتابپلورنځی، سمون کتابپلورنځی، جهان دانش کتابپلورنځی.

لغمان: قاري حبیب الله عزیزي کتابپلورنځی، چهارباغ بازار، مدینه مارکیټ.

خوست: رنا کتابپلورنځي

پکتیا: علمي کتابپلورنځی، ماشاء الله کتابپلورنځی.

پکتیکا: مجاهد کتابپلورنځی

هلمند: تاج منور کتابپلورنځی.

Preview (3 / 10) - ketabton.com



Preview (4 / 10) - ketabton.com

ډالی!

هغو سپېځلو اشخاصو ته چې نورو ته په متقابل درناوي قائل وي، ژر قضاوت نه کوي او یو ښه اورېدونکی وي.

(نوري)

Preview (5 / 10) - ketabton.com

لړليک

ملګری خوی 1
نور مه ربړوئ 12
وخت ارزښتمن دی، خو بیا یې هم چاته ځانګړی کړئ؟ 17
آیا نور تاسي نه شي زغملی؟ 18
له ناروغۍ زده کړه وکړئ 19
ځینې وخت چوپ اوسئ 20
ذهني ستړیا له منځه یوسئ 21
بادرکه اوسئ 22
دا هم تېرېږي، ښه بې درېغه او په نېغه 26
صبر او زغم زده کړئ 29
ښې ځانګړنې وستایئ 32
څه ډول د تورو ښه تلفظ وکړو؟ 33
غواړئ یو نامتو لیکوال جوړ شئ؟ 38
غواړئ مجله/ ورځپاڼه کې مو لیکنه خپره شي؟ 44
موخې ته رسېدل غواړئ؟ 47
ټولنیز ژوند څنګه غوره کړو؟ 49
یو بل ته د وروړۍ لاس ورکول؛ ګټه که تاوان؟ 53
ځوانان په کومه کچه د ټولنې ستونزې راکمولای شي؟ 57
د مینې معیار 60
د بریا راز 62

Preview (6 / 10) - ketabton.com

ستاسې یو پټ دښمن 65
په اسلام کې د ښو اخلاقو ارزښت 74
د بدبختۍ لویه نښه 79
د مینې، ښېنې او خواخوږۍ چینه وموميء؟ 84
نوی کال؛ نوې هیلې؛ څه، کوم وخت او څنګه وکړو؟ 86
ښوونکی؛ له ستاینې تر ناموسي ښکنځلو 89
یو ګام رامخته شه 96
اخځلیکونه 100

Preview (7 / 10) - ketabton.com

د بریا او مخته تګ راز

د هر ملت د پرمختګ راز په فکر، پوهه او د لاسته راوړنو په شریکولو کې نغښتی دی. هر څوک چې غواړي د ژوند په بېلابېلو برخو کې بریا ته ورسېږي، اړ دی، څو له تجربو زده کړه وکړي، له بریالیو خلکو الهام واخلي او د وخت له ارزښت څخه ښه ګټه پورته کړي. دا کتاب، **یو ګام را مخته شه!** زما د ژوند د تجربو، فکرونو، مشاهداتو او لاسته راوړنو یوه ټولګه ده، چې د خپلو لوستونکو لپاره مې په ډېر ویاړ او زحمت وپنځاوه.

د دې کتاب له لیکلو موخه دا ده چې تاسې ته د ژوند د بریا، نوښت، مثبت فکر او دوامدارو هڅو اهمیت در وپېژنم. ما تل دا اصل تعقیب کړی چې انسان هغه وخت پرمختګ کولی شي، چې پر ځان باور ولري، مثبت فکر غوره کړي او خپلو موخو ته د رسېدو لپاره زحمت وباسي. هر څوک چې د ژوند په سفر کې یوازې د ذوق او تمې تابع وي، خو عملي ګام نه اخلي، ښکاره ده چې ډېر ژر د ناکامۍ سره مخ کېږي. همدا لامل دی، چې ما د کتاب په مختلفو برخو کې د بریا رازونه، هڅونکي کیسې، د ستونزو پر وړاندې د مبارزې لارې چارې او د یوه اغېزمن او فعال ژوند کولو اصول راټول کړي دي.

د کتاب ارزښت او اړتیا:

زه باور لرم چې مور ټول د خپلو ژوند د ښه والي لپاره اړتیا لرو چې د خپلو فکرونو، تجربو او نوښتونو د ودې لپاره هڅه وکړو. دا کتاب د

Preview (8 / 10) - ketabton.com

همداسې افرادو لپاره لیکل شوی، چې غواړي خپل ژوند ته بدلون ورکړي، خپل استعدادونه وده ورکړي او هره ورځ د یو نوي زده کړې فرصت وګټي.

زه نه وایم چې دا کتاب به د ژوند ټولې ستونزې حل کړي، خو یوه خبره درته ویلای شم: که تاسې یې په غور ولولئ، د یادو شویو نظریاتو ژور فکر وکړئ او عملاً یې په خپل ژوند کې پلی کړئ، نو پرته له شکه به تاسې ته ډېرې ګټې ولري. ما د دې کتاب د لیکلو لپاره شپه او ورځ هڅه کړې، د بېلابېلو اشخاصو نظریات مې اوربدلي، د بریالیو خلکو کیسې مې څېړلې او خپله هم د ژوند په اوږدو کې له ګڼو تجربو سره مخ شوی یم. مانا دا چې دا یو ګټور غورچاڼ وبولئ.

د بریا کیسې او تجربې:

په دې کتاب کې تاسې ته د بریالي ژوند لپاره نه یوازې عملي لارښوونې وړاندې شوي، بلکې د هغو اشخاصو کیسې هم پکې شاملې دي، چې د ستونزو او خنډونو سره - سره، خپل هدف ته رسېدلي دي. د دوی مبارزه، زحمتونه او د وخت سم مدیریت تاسې ته دا ښیي چې که اراده قوي وي، نو هېڅ شی ناممکن نه دی. همدارنګه، تاسې به پکې د هغو اشخاصو تجربې هم ولولئ، چې د سختو شرایطو سره مخ شوي، خو له خپلو تېروتنو یې زده کړې اخیستې او وروسته یې د ژوند مسیر هم ور بدل کړی. البته باید یادونه شي، چې د ژوند د بېلابېلو زاویو څخه په ځغلنده توګه بېلابېل ابعادو ته کتنه شوې، چې د دې لپاره هیله مند چې ستاسې لپاره جذابیت ولري.

Preview (9 / 10) - ketabton.com

وروستی خبرې:

زه دا کتاب خپلو ګرانو لوستونکو ته د یو الهام، تشویق او عملي ګام د اخیستلو په موخه وړاندې کوم. که د دې کتاب یوازې یو ټکي هم وکولی شي تاسې ته د مثبت بدلون انګېزه درکړي، نو زه به دا احساس کړم چې زحمت مې بې ځایه نه دی تللی. هیله لرم چې تاسې دا کتاب په مینه ولولئ، له خپلو ملګرو سره یې شریک کړئ، د لیکنو پر مفهوم ژور فکر وکړئ او مهم ټکي یې په خپل ورځني ژوند کې تطبیق کړئ. که کوم ځای تېروتنه وه، سهوه یې وبولئ او د راتلونکي لپاره یې د اصلاح په موخه په ذکر شوي برېښنالیک پته یې راسره په لوی زړه شریک کړئ.

مه رنځورېږئ؛

حضرت عثمان نوري

پلازمېنه کابل

د مارچ ۱۸مه، ۲۰۲۵

Preview (10 / 10) - ketabton.com

یو ګام د بدلون لاره؛

په نړۍ کې داسې کتابونه شته چې انسان ته نوې لارې پرانيزي، فکر ته روښنايي ښيي او ذهن ته الهام ورکوي. "یو ګام را مخته شه!" یو له دا ډول کتابونو څخه دی. دا کتاب یوازې د عادي مشورو ټولګه نه ده، بلکې د عمل، نوښت، زحمت او نه تسلیمېدو فلسفه پکې نغښتې ده. لیکوال حضرت عثمان نوري د ژوند له تجربو، د بریالیو اشخاصو له کیسو او د فکر له نوښتونو څخه الهام اخیستی، ترڅو لوستونکو ته یو مثبت او ښکاره پیغام ورسوي، هغه د ټولو هیله ده، هر چاته پکار ده او پر ژوند میینانو ته خو بیا بیخي د سرو زرو کانۍ دی. ((که غواړئ مخکې لاړ شئ، نو یو ګام را مخته شئ!))

دا کتاب نه یوازې د تېر ایستونکو شعارونو څخه خالي دی، بلکې پر عمل ولاړې لارښوونې لري. د لیکوال سبک ساده، خو اغېزناک دی. هغه د ژوند ژور حقیقتونه د عامو مثالونو، روانو کیسو او منطقي استدلال په مټ بیان کړي، څو هر لوستونکی یې له مفهومه په اسانه ګټه واخلي. د کتاب هره موضوع لوستونکی هڅوي چې ځان ته ووایي: (زه هم دا کولی شم!).

د کتاب مهمې ځانګړنې:

- د مثبت فکر، زحمت، او دوامدارو هڅو اهمیت ته اشاره کوي.
- د عملي ژوند لپاره لنډې، خو اغېزناکې کیسې لري.

PREVIEW

You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

Buy this book - ketabton.com

https://ketabton.com/books/oI0GhamQ8gE

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.